
دانټرنیټ دفارسی منابعو څخه
ژباړونکی : عزیزاحمد خوارمل

# دامریکا دنړیوال امنیت دعلوموموسسئه وایی :
# په افغانستان کې دامریکا ماته قطعی ده !

**دانتوني کوردسمان لیکنه**



**دامریکا دنړیوال امنیت دعلوموموسسئه په یوګزارش کې چې (۱۱۳ یوسلو دیرلس )مخه دی دپوره اسنادواوښی نښانی په وړاندی کولوسره ثابتوی چې دامریکا هیواد لکه د پخوانی شوروي اتحادپه شان به په افغانستان کې ماته وخوری اودا ماته حتمی ده .**

دامریکا دنړیوال امنیت دعلوموموسسئه په یو ګزارش کې «دماتی خطردافغانستان اوپاکستان په جګړه کې ؟ مخ پرزیاتیدودی» په افغانستان کې دامریکا ماته یې قطعی اوحتمی وبلل .

دغه امریکایی موسسئی په دی ګزارش کې لیکلی دی : ایا دشمالی اتلانتیک تړون(ناټو) هم لکه پخوانی شوروي اتحاد چې په اتیاومه لسیزه کښې اوانګلیس په نهولسم پیړی کښې ماته یې وخوړل،ماته خوری ؟ .

ددی ګــــزارش پــربنسټ ،په دی ګــــزارش کې راغلـــی دی دامــریکا ددولت دمنکریدواودناټود

منکریدوسره سره ،بایدوویل سی چې ددی پوښتنی ځواب دا دی : چې دغه ماته حتمی ده .

"انتوني کوردسمان" دامریکا دنړیوال امنیت دعلومودمرکز غړی ،د(۱۱۳ یولسودیرلسو) مخو په یوګزارش کې د قناعت ورکوونکوشواهیدواودلالیوپه وړاندی کولوسره ثبوت وی یې ،چې امریکا په افغانستان کې ماته خوری .

دغه امریکایی نامتوڅیړونکی په دی باور دی ،چې دپنځوکالنوپه موده کې په افغانستان کې حالات ډیر ګډوډ اوکړکیچن سویدی اودغه وضعه اوس ویوبل کړکیچن پړاوته رارسیدلی دی . دِغه لیکوونکی په

دی هکله وایی : " رابرت گیتس دامریکا ددفاع وزیر او مایکل مولن" دامریکا ددفاع وزارت دګډوځواکونولوی درستیز په یو ږغ سره یې ویلی دي، دا اوس مهال افغانی اوپاکستانی جګړه په جریان کې ده اوددی مشکل دحل دپاره ،و نظامی اوښاری امکاناتوته اړتیاسته دی .

همدارنګه په افغـــانسـتان کې اوضاع او حالات داوسیدونکو،دمرستندویوسازمانونو،دناټود

ځواکونواودامریکایی ځواکونودپاره ډیر مرګونی سویدی دی .

ددی امریکایی موسسئی په ګزارش کې راغلی دی : دطالبانوډلی یو ځل بیا دافغانستان ډیری سیمـــې تر خپل واک لاندی راوستی دی، اوودغـــوسیمـــوته دمرستندیوسازمانونواو موسسئواوداوسیدونکود ورتګ څخه ممانعت اومخنیوی سویدی .

په دی ګزارش کې په اشاری سره لیکل سویدی چې طالبان په افغانستان کې بل ځل واک ته رسیډی په همدی ډول راغلی دی ، دطالبانو غږي دخاشخاشودکرهنی او دډول ډول امن پټ ځایونوڅخه دپاکستان په خاوره کښي کاراوګټه ورنه اخلی ،خپل واک ډیره وی او وخپل جغرافیاوی سیموته په پرله پسی توګه سره پراختیا ورکوي .

په دغه ګزراش کی لیکل سویدی چې « دماتی دنوم خطر،دافغانستان – پاکستان په جګړه کې ؟ مخ پرډیریدو دی »او اوسنی وضعه دا دځانه سره یې لری ،دناټودسربازانوپرتلفاتو اودیوشمیر بدلونوپه هکله لیکی :په افغانستان کې په طبیعی توګه سره ګواښونه اوګوتڅندنی مخ پرزیاتیدودی همدارنګه دملګروملتونودسازمان دګزارش اودامریکا دجاسوسی څیرنیزی نقشي پربنسټ دافغانستان دناامنوسیمو څخه ددی ښکاروندی دی چې خطرمخ پر ډیریدو اوپراختیادی .

په دی ډول ددی ګزارش پربنسټ دامریکا راتلوونکی جمهور رئیس «دیوی حیاتی معضلی سره په جګړه کې ښایی چې په دوه سطحه کې،په سیاسی چاروااوپه خپله کړنلاره کې به ماته وخوری ، اودماتی سره مخا مخ دی ،او هغه جګړه چې تاکتیکی بریاوی به هم ورپوره نه سی » .

کوردسمان په دی هکله لیکی ،همدارنګه ددی دلیل پربنسټ دناټودنظامی مشرانواودامریکایی ځواکونوغوښتنی دنوروځواکونوپه لیږلوکې و افغانستان ته ،اوځرنګه چې جورج ډبلیوی بوش دامریکا جمهورئیس هم دښږکال دسپټامبرپه میاشت کې وعده ورکړی ووپه دی اړه روښانه خبره ده .

امریکا دشمالی اتلانتیک تړون(ناتو) یومیاشت وروسته د(۲۰۰۱) کال دسپټامبرد(۱۱مې )دیولسمی نیټی په پیښه کې کله چې دالقاعدی شبکی ددی پیښی درامنځته کیدو په تور ګرم اوتورن اعلان سوپه دی پلمی سره دالقاعدی دله منځه وړلو اودهغه دمشرانودنیولودپاره پرافغـــانستان باندی یې یرغـــل وکــړ اوتردا اوسه پـــوری دغه هیواد یې ترخپل نظامـــی واک او

ښکیلاک لاندی ساتلی دی .

## دامریکا دبهرنی چارووزارت پخوانی وزیره "مادلین آلبرایت" وایی :

# دبوش ددولت دفاع دبشری حقونوڅخه يوه مسخره اميزه کړنه ده



دامريکا دبهرنی چاروزارت پخوانی وزيره په کلک ګوتنيونوسره دبشری حقونو ترپښولاندی کيدل او نقضيدل يې ، چې په پراخه توګه سره دنړی په مختلفوسيموکښې ترسره کيږی ،دبوش ددولت دفاع يې دبشری حقونوپه هکله يوه مسخره اميز کړنه وبلل .

"مادلين البرايت"دچک دجمهورت د"ليدوفکي" ديوی ورځپاڼی سره په خبراتوروکښې وويله : امريکا داوسنی دولت ترسيوری لاندی په نړی کې خپل اخلاقی ملاتړ يې دلاسه ورکړی دی اودا کار يوه مسخره اميزه کړنه ده ،کله چې نورهيوادونه بشری حقونونقضوی اوترپښولاندی کوی بيا نودبوش دولت ګوتنيونی پری کوی ،داپه داهسی حال کې دی چې هرڅوک کولای سی دعراق دپيښوپه وړاندی کولوسره له دی مسئلی نه دبوش ددولت پرضد ورنه ګټه واخلی .

ا لبرايت په دې هکله وايی :دبوش دولت دامريکا هيواد يې ويوی ژوری کندی ورغورځولی دی او اوس مهال کله چې يوځوان دامريکا نوم اوری نودګوانتاناموډجيلونو اودابوغريب دجيل په ياداو په سوچ کې ورولېږی ، اودامريکا دپاره دغه کاردېردبدوشيانوله جملی څخه ګنل کيږی .
" البرايت" بوش يې ددموکراسی په له منځه وړلوتورن کړ اووی ويله چې بوش ددموکراسی په تحميلولوسره په هره سيمه اوهرځای کې ددموکراسی ځيره يې وراړه ولی دی .

همدارنګه هغه څه چې زموږدوستانو ورته هيله مند دی هغه دا دي چې دبوش دوتلو وروسته دسپينی مانی څخه دامريکا ځيره به ښه والی ومومی .

دکلينتون ددولت دبهرنی چاور دوزارت وزيره وويله :دامريکا دولت دسپتامبرديوولسمی (۱۱می) نيتی دپيښی نه وروسته دامريکا دخلکوپه بيره ولويې پيل وکړ،اوخلک هم اجازه يې ورکړل چې دغه بيره پردوي باندی لاس بری وکړی .

مادلين البرايت دامريکادجمهوری رياست ددموکرات نوماندی بارک اوباما په تمجيد کولوسره ، هغه يې يوزيرک سياست پال وبلل اوپه دی اړه يې وه ويله : هغه به په امريکا کې دبدلون استازی وی .

البرايت هم داوباماپرغوښتنه باندی چې غواړی د(لسو ۱۰-) مياشتوپه موده کی امريکايی ځواکونه دی دعراقه ووځی تينګار وکړاوپه دی هکله يې وويله : دامريکا خلک اوس مهال پرته دامريکايی ځواکونوراايستل دعراقه نه، بل شی نه غواړي .

مادلين البرايت ددی موضوع په ادامه سره وويله : اوبامابه هيڅکله هم دامريکايی ځواکونوراايستل په غير مسئولانه توګه سره ترسره نه کړی اودبل خوانه امريکا هم نه سی کولای چې ترډيره موده پوری په دی سيمه کښې پاته دی سی .

البرایت د عراق جګړه یې دغمونو او مصیبتونو څخه ډک ،دامریکا دبهرنی سیاست دپریکړې پایله  وبلله اوټینګار یې وکړه چې دعراق  دجګړې تاوانونه دویتنام دجګړې په پرتله دامریکا پرڅیره باندی خوراډیر تره څرګندیږی .

# الحیات ولیکل ؛ پرنړۍ باندی  دامریکا مخکښې  ماته یې وخوړه!



الحیات دمنځنی ختیځ یوه سیمیزه ورځپاڼه په ټینګار سره په دی هکله چې، دامریکا دجمهور رئیس سیاستونه دملګروملتونوسازمان یې ضعیفه کړی ده ولیکل : پرنړۍ باندی دامریکا مخکښې ماته یې خوړلی ده  اودملګروملتونوسازمان دنړی دمخکښې اودلاربنودنی واک یې دلاسه ورکړی دی .

دالحیات ورځپاڼی دسپتامبر د(۲۴) نیټی دګڼی په سرمقاله  کې یې دملګروملتونودنوی غونډی اوددی سازمان درئیس« بان کی مون » دوینا په هکله یې ولیکل : بان کی مون  ودی ته ندی اړ چې دملګروملتونودسازمان حداوپوله دی وده ته وه ویل سی ترده دمخه  دپخوانیورئیسانوتجربی دده سره مرسته کوی چې ډیری لوستی ورنه واخلی ،دملګروملتونودسازمان واک دلویواوځواکمنوهیوادونوپه امادګی اوودی سازمان ته په واک ورکولوپوری تړلی دی . بایدپه ربښتیا سره لوی هیوادونه دهغه په پریکړو اوپه کړنوکې مرسته ورسره وکړي .

الحیات ولیکل : بان کــي مــون دامریکا اودملګـــرروملتونـــوترمنځ داړیـــکودداستان په ډېرو

ستونزوپوه دی ،په ریښتونی توګه سره دملګروملتونوسازمان پرته دلویو هیوادونوڅخه نه سی کــولای چې داوسنـــی آخ اوډب نه  ډک کړکیچـمنوستونـــزوپه هکله پریکـــړه وکــــــړی مګر دملګروملتونودسازمان دشمیر برابروالی تل دامریکا دحساب اوکتاب سره نه دی تضمین سوی .

نوپه همد ی ډول ددی ګزارش پربنسټ ، دلویوهیوادونوسروهلی اړیکی به ډېرژر دملګروملتونودسازمان منبر به  ددغوهیوادونولخوایودبل پرضد وکارول سی ،لکه هغه پیښی چې دسړی جګړی په وخت کې رامنځته سوی وو.

الحیات لیکی : جورج بوش  دملګروملتونودسازمان په ادا ورروستی  غونډه کښې خپل دخدای په امانی بیانیه یې وکړون کوونکوته  واوره ول اوخپل درپاست جمهوری په وخت کې بوش دملګروملتونودسازمان په ضعیفه کولوکې ډېره برخه  یې درلود ځکه دملګروملتونوپرچارو، پرکړنواود

رول په وړاندي يې سترګي پټی کړی وی ا وپرته دملګرو ملتونودسازمان دقانونی پریکړی اواجازی نه پرعراق باندی یرغل وکړ اودغه کړنه وهرچاته ښکاره اوبربنده ده چې دملګرو ملتونوسازمان دعراق دجګړی په وړاندی لاس تړلی ناست وو اویوازی خپله کړنه یې دبخښنی په ویلو سره بسیا کړ .

"غسان شربل" دالحیات دورځپاڼی مدیر مسؤول په ګوتنیونی سره دبوش ددولت په هکله لیکی : که بوش په یوبل ډول سره نړی یې رهبری کړی وای نونړی به اوس مهال یوه بله څیره درلودی وای،بوش حتی ونسی وکړای چې خپل اوریدونکی په صحیح اودقیقه توګه سره قانع کړی . په رینبتونی توګه یې عراق ترخپل واک اوښکیلاک لاند ی راوستل ،اوامریکا دسپټامبردیوولسمی (۱۱می)نیټی نه وروسته مهمه رول یې دنړیوالودټولیزوافکارو دهمدردی دمنځته وړل دپاره یې پرځا ی کړل .

نوله همدی کبله ددی ګزارش پربنسټ باندی نړیواله ټولنه ددی موضوع وتشریح اوتوضیح ته اړتیا نلری ،امریکا زیارباسی ترڅوپه عراق کې دجګړی ددرانده باره څخه ځان ورخلاص کړی ،او همدارنګه دافغانستان ټولنه هم یوازی دځارنی سرچینه نده ،دپاکستان امنیت هم دمخته کولو وړدی ، اودپاکستان دهریورغښتونودمنځه وړل ،اوپه همدی توګه دپاکستان داټومی اوذره وی وسلیو په هکله ډېری نوری پوښتنی رامنځته کیږي اوددی اټومی اډی پاته کیدل اوساتل دښوخلکوپه لاس کې ورولیدل چې بل ځل ورباندی تجارت ونسی دپاملرنی ،دبحث اودخبراترو وړ دی .

دپاکستان نړیدل به ،په رښتیا سره ډېره جدي ځارنه به رامنځته کړی ،دپاکستان اوهندوستان ترمنځ د جګړو اوشخړوپه هکله اوپه همدی ډول دغه ډول شخړی دمسلمانانواوهند ترمنځ به هم رامنځته سی .

په دی ډول ددی ګزارش پر بنسټ ،بان کی مون دافغانستان اودپاکستان دخطرونوسره اشنا دی .

دبوش ټینګار دروسیې پرکلابندی (محاصری) باندی په نتیجه کښې ددی هیواد مشران یې هم دخپل واک وښکاره کیدوته اړ ایستی دی .

دګرجستان تجربه اوازمایښت ډېری معناوی لري ،اودډېروپیچلوموضوعاتوڅخه یو هم دایران اټومی مسئله له دی جملی څخه ګڼل کیږی اوپه دغومسائیلو پوری تړلی دی .

الحیات ددی لیکنی په وروستیو کرښوکښې لیکی : دامریکا مخکښې په نړی کې یې ماته خوړلی ده اودملګروملتونوسازمان هم د دی واک نلري چې دنړی مخکښې پر غاړه باندی واخلی .

"بان کي مون" دملګروملتونودسازمان رئیس هم دملګروملتونوددروشپتمی (۶۳ می)غونډی په پرانستلوسره په خپل پرانستونکی ویناکې یې وویل ،دملګروملتونوسازمان ،دنړی داوسنی کړکیچونودحل اودمنځه وړلودپاره دیوی نوی مخکښې غوښتوونکی دی ./

پورتنی مطالب دلاندی ادرسونوڅخه اخیستل سویدی

- دفارس نیوز نه
- دجام جم نه

29092008